عبدالباري جهاني (ترجمه) ۲۰۱۹/۱۰/۱۱

# د ډاکټر عبدالغني اثر

دریمه برخه او پای

د ترکستان د میمنې په ښار کې د دلاور خان په نوم یوه سړي خپلواکي اعلان کړه. امیر پر میمنه باندې له بلخ څخه له دوو خواوو د حملې امر وکړ. د میمنې قلا یې محاصره کړه، حمله یې ورباندې وکړه او ویې نیوله. دلاور خان ونیول سو او کابل ته یې بندي راووست.

لغمان ته نیژدې د کیلمان خلکو د کابل حکومت نه مانه. بالاخره تسلیم سول او نورو ولایتونو ته یې تبعید کړل. وروسته نو د غلجیو عمومي بغاوت پیل سو. غلجیان په شمېر کې د پښتنو قبایلو تر ټولو زیات دي او ډېر قوي دي او څو کاله یې امیر ته ستونزې پیدا کړې وې. دوی هم په پای کې یو په یو تسلیم سول او په هیواد کې سوله او کراري راغله.

په دې پسې، په ۱۸۸۸ کال کې، د سردار محمداسحق خان بغاوت پیل سو. اسحق خان د امیر محمداعظم خان زوی او د امیرعبدالرحمن خان د کاکا زوی وو. امیر عبدالرحمن خان هغه د ترکستان گورنر ټاکلی وو مگر په دغه کال هغه خپل ځان د افغانستان امیر اعلان کړ او په خپل نامه یې سکه جاري کړه. ده شل زره پوځ درلود. امیر د هغه د ځپلو لپاره یو قوي پوځ ور واستاوه. دواړه پوځونه د سپتمبر پر نهه ویشتمه د غزنیگک په سیمه کې سره مخامخ سول. ډېر سخت جنگ وسو او له سهاره ترماښامه یې دوام وکړ. د امیر د لښکر یوې برخې ماته وکړه مگر د ده د پوځونو لوی قوماندان جنرال غلام حیدر د دښمن د پوځ له اصلي برخې سره په جگړه لگیا وو. جنگ په تندي روان وو چې د ماپښین په وخت کې د امیر ځینې هغه سپاره عسکر چې له امیر څخه خوابدي ول هغې غونډۍ ته په تاخت روان سول چې اسحق خان له هغه ځایه د جنگ ننداره کوله او غوښتل یې چې اسحق خان ته سلامي سي. اسحق خان فکر وکړ چې دا عسکر غواړي هغه ونیسي او د ده اصلي پوځ لکه چې ماته کړې ده . دی سمدستي پر خپل اس سپور سو او چې وس یې کېدی هغسې په تاخت ولاړ. د ده عسکرو جنگ ته دوام ورکړ او د شپې ناوخته د اسحق خان د تیښتې خبر ورته ورسېدی. د دوی زړه ولوېدی او ماته یې وکړه.

امیر له دې برې څخه وروسته لازمه وبلل چې ترکستان ته ولاړ سي او ټول خلک تسلیم کړي او د هغې سیمې ستونزې حل کړي. کله چې امیر په مزار شریف کې وو نو د بدخشان خلکو هم بغاوت کړی وو مگر هغه یې ډېر سخت وځپل او بیا یې سر پورته نه کړ.

د ۱۸۸۸ کال د ډسمبر په میاشت کې، چې امیر عبدالرحمن خان د مزار شریف د پوځ د رسم گذشت ننداره کوله، یوه عسکر ډز ورباندې وکړ او مرمۍ د هغې چوکۍ په شا کې ولگېده چې دی ورباندې ناست وو. د ده یو غلام بچه یې په ورانه کې وویشت. امیر لکه په معجزه چې خلاص سو؛ ځکه چې امیر ډېر چاغ سړی وو او ټوله


ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

چوکی یي نیولې وه او مرمی د چوکی په شاکي په مابین کي ولګېده او باید چي امیر یې په زړه کي ویشتلی وای. دا چوکی ما پخپله لیدلي ده چي په کابل کي د ننداری لپاره ایښودله سوې ده.
د امیر عبدالرحمن خان په پاچهی کي وروستی لوی داخلي جنګ د هزاره ګانو جنګ وو. په دې جنګ کي د هزاره ګانو ماتي د امیر او پښتنو حیثیت ډېر لوړ کړ. هزاره ګان د مغولانو یو ګډ نژاد دی،، عموما میانه قده خلک دي، ډېر په ځان غښتلي دي، د مخ هډوکي یې غټ او راوتلي دي، پیتي پزي لري او لنډي نری سترګي یې دي. مخونه یې کله په وېښتانو پټ او کله لنډي ږیري لري. دوی شیعه ګان دي خو په شیعه ګانو کي عموما ډېر ناخبره خلک دي. ما ځیني لیدلي دي چي کټ مټ د هغه چنګیزخان قواري لري چي عکس یې د ارګ په یوه خونه کي ځوړند دی. دوی ډېر زیارکښ خلک دي، د افغانستان په مرکزي برخو کي، له قلات او غزني څخه تر هرات او بلخ پوري پراته دي. د دوی سیمه ډېره غرنی ده، ډېري ژوري درې لري او د غرونو ډیري څوکي یې دونه لوړي دي چي څوک ورختلای نه سي. د دوی کورونه په طبیعي توګه ساتلي دي او په دغو مورچو او کورونو کي له نورو خلکو څخه لیري اوسېدلو دوی ته یوه جنګي استقلال غوښتونکي روحیه وربخښلي ده او دوی په دې روحیه هر وخت ډېر افتخار کوي.
دوی د کابل حکومت نه مانه او هر وخت به یاغي وه. د امیر عسکر دوه ځله د دوی سیمي ته ورغلل او دوی ته یې ماته ورکړه، د دوی کورونه او مورچي یې تباه کړې، د دوی شته مني یې لوټ کړه او د دوی مشران یې د یرغمل په توګه راوستل. کابل له هزاره غلامانو ډک سو. ډېر یې د افغانستان نورو برخو ته تبعید سول .
امیرعبدالرحمن خان د سولي د ټینګولو او د خپل قلمرو د ټینګولو تر څنګ په ۱۸۹۳ کال کي د ډیورنډ د تړون له لاري یو شمېر نوري مځکي هم ترلاسه کړې. په دې مځکو کي تر ټولو لویه سیمه کافرستان وو، چي هیڅ وخت یې د افغانستان سلطه نه وه منلې، او د غرونو او درو په مابین کي پروت وو. په دغو غرونو او درو کي اوسېدونکي قبایل کافران بلل کېدل، چي نه مسلمانان وه او نه افغانان. د دوی اصل نسب په دقیق ډول معلوم نه دی مګر داسي احتمال لري چي دوی به د سکندرکبیر د هغو عسکرو او ورسره راغلو کسانو اولاد وي چي د ده له لښکرو څخه پاته سوي او په دغو غرونو کي یې ځای نیولی دی. د دوی مذهب د بُت پرستی او خرافاتو څخه جوړ سوی وو. دوی زړه ور خلک دي. دوی د ګوډ تیمور د حملو سره مقاومت وکړ او هغه یې مجبور کړ چي کولوم ته پر شا سي، چي د کافرستان په مرکز کي یوه قوي قلا ده.
امیر عبدالرحمن خان په لومړي سر کي نه غوښتل چي له هغوی سره جنګ وکړي او دا وېره یې درلوده چي په جنګ کي به د دواړو خواوو څخه ډېر کسان ووژل سي. ده به کله کله د هغوی مشرانو ته بلنه ورکړه، له هغوی سره به یې په مهربانی سلوک وکړ او له سوغاتونو سره به یې ستانه کړل، چي ګوندي دوی به خپلو خلکو ته ولاړ سي او هغوی به د ده د حکومت منلو ته تشویق کړي. مګر دوی لاري ته نه راتلل. په پای کي کله چي پامیر د روسیي لاسته ورغی او هغوی په دې توګه کافرستان ته نیژدې سول نو امیر د کافرستان د فتح کولو فیصله وکړه. ده د روسیي د پرله پسي پرمختګ څخه اندېښنه درلوده او پوهېدی چي د روسیي بل ګام به د پامیر له نیولو څخه وروسته کافرستان وي. کافر پوهېدل چي امیر غواړي د دوی مځکه په خپل قلمرو کي شامله کړي، نو ښایي روسیي ته یې بلنه ورکړې وای چي د دوی په طرفداری مداخله وکړي. نو ده پر کافرستان باندي د ناڅاپي حملي کولو فیصله وکړه او تر څو چي خپله فتح یې بشپړه کړې نه وه په نړۍ کي څوک په خبر نه سول.د ده د یرغل پلان داسي وو چي په یوه وخت کي له څلورو خواوو ،بدخشان، پنجشیر، لغمان او اسمار له

لوري حمله وکړي. د ۱۸۹۵ کال په ژمي کي يي له څلورو خواوو منظم پوځونه، چي ډېر زيات ملېشه قوتونه ورسره ملګري وه، پر کافرستان باندي ور وستل. دا داسي موسم وو چي د غرونو څوکي په واورو پټي وې او د کافرستان خلک د افغانستان د عسکرو د حملو له لاسه د غرونو څوکو ته نه سواى پورته کېدلاى. په دې کي شک نسته چي واورو د امير د عسکرو پرمختګ هم ورو کړى وو خو په شپږو مياشتو کي يي ټوله سيمه ونيوله.
شپاړس سوه زړه ورکافر کابل ته د جنګي بنديانو په توګه راوستل سول. امير له هغوى سره ډېر ښه سلوک وکړ.
په پغمان او لوګر کي يي د کرلو لپاره مځکي ورکړې او هغوى هلته خپل سوله ايز ژوند پيل کړ. ځوانان يي په پوځ کي شامل کړل او ښه عسکر ورځخه جوړ سول. د هغوى د روزني لپاره يو څو ښوونځي هم پرانيستل سول.
تقريبا ټول مسلمانان سول.
په کافرستان کي هم ښوونځي پرانستل سول او ډېرو يي بت پرستي پرېښودله او اسلام يي راووړ. افغانان په هغو سيمو کي اوسېدلو ته تشويق سول څو کافرانو خپل انفراديت له لاسه ورکړ او په افغانستان کي جذب سول.
افغانستان د عايداتو دوه مهم منابع لري. کرنه او تجارت. د مځکو عايدات په کابل کي ديرش ميليونه کابلي روپي کيږي. او تجارتي عايدات يي تر پنځه لس ميليونه روپيو نه زياتيږي.
د مځکو عايدات، که څه هم چي لږ وډېر پر خپل حال دي، ډېر سم اټکل يي ځکه نه سي کېدلاى چي يوه برخه يي په نغدو او يوه برخه يي په جنس تاديه کيږي. په مالياتو کي دغه راز د ځارويو، سرکونو او نور ډولونه هم راځي. تجارتي عايدات هر وخت تغيير کوي؛ ځکه چي هم په قيمتونو کي تغيير راځي، هم د مالياتو په نرخونو کي تغييرا راځي او دغه راز لا په دې پوري هم اړه لري چي ماليه اخيستونکي مامورين څومره صداقت کوي.
خو د ټولو عايداتو اټکل د ديرشو او څلوېښتو ميليونو کابلي روپيو په حدودو کي کولاى سو. د مځکو په مالياتو کي يوه بله ستونزه دا ده چي هيڅ وخت په بشپړه توګه ماليه نه ده ټوله سوې. يو خو د خلکو د نېستنمى له وجهي او بل د مالياتو د مامورينو د غبن له امله هر کال يو ميليونه يا زياتي روپۍ باقيات راځي. باقيات هر کال حسابيږي او د حصول لپاره يي کوښښ کيږي مګر چنداني نتيجه يي نه ده ورکړې. ځکه نو له خلکو څخه د باقياتو اخيستل د خلکو پر اوږو باندي دونه دروند بار دى چي د امير عبدالرحمن پر ځاى د بل امير لوى امتياز، چي خلکو ته يي ورکوي او خلک د ځان طرفداران کوي هغه د باقياتو بخښل دي.
امير عبدالرحمن خان په داسي وخت کي قدرت ته ورسېدى چي خزانه عملاً تشه وه او د مالياتو په راټولولو يي بنا وکړه. څرنګه چي د هيواد په داخل کي د عايداتو کافي منابع نه وه نو هغه د موجودو مالياتو اندازه زياته کړه او نوي ماليات او د مالياتو دپاره نوي اندازې يي وټاکلې. د ده پلان په کال کي لس ميليونه روپۍ سپما وه، مګر هيڅ وخت يي دونه پيسي ونه سپمولې. د ده د عايداتو يل قلم د مامورينو جريمه کول وه، چي اکثر به يي د اختلاس په تور نيولي وه او د هغوى شته مني به يي ضبط کړه. د هيواد خلک هر وخت د درنو مالياتو له لاسه کړيږي او د مالياتو د ټولولو تنظيم اوس هم وجود نه لري. د ده له ټولو کوښښونو سره سره چي غوښتل يي د هيواد د عايداتو او لګښتونو دقيقه اندازه معلومه کړي، د مامورينو د فساد او غبن له لاسه په دې کي بريالى نه سو.
مامورينو به هر وخت غولاوه او هر وخت به پر خپله خبره ولاړ ول . د عايداتو د تنظيم لپاره د سستم جوړول امير ته بشپړ حساب په لاس ورکوي او د دوى د غبن او خيانت مخه نيوله کيږي چي هغوى په هيڅ توګه ورڅخه تېرېدلاى نه سواى. نو د عايداتو او مالياتو سستم همداسي نيمګړى پاته سو. مګر د امير عبدالرحمن خان پاليسي دا وه چي بايد خزانه يي ډکه وي اود هغې په وسيله هيواد د بهرني طاقت له پورونو څخه وژغوري. په دې هغه

بریالی سو. که څه هم چي د خپل پلان د بشپړولو لپاره یې له داسي لارو څخه کار واخیست چي سرې یې غیرمنصفانه اضافه ستاني بللای سي.
امیر له دغي داخلي پالیسی څخه دوه هدفونه درلودل. یو خو دا چي په دې توګه یې هیواد له احتمالي بښوربښونو او ناکراریو څخه پاکاوه او بل دا چي خپله خزانه یې ډکول او په دواړو صورتونو کي یې د سختو اقداماتو څخه کار اخیست او نتیجه دا سوه چي قبایلي خپلواکي په بشپړه توګه ماته سوه او په خلکو کي د سر د پورته کولو روحیه مړه سوه. ده په دې توګه د د مترقي اصلاحاتو د سوله ایز پرمختګ لپاره لاره هواره کړه. مګر افغانستان، له دغه درکه، چنداني طالع نه لري. تر څو چي د یوه هیواد د عایداتو په منابعو کي انکشاف رانه سي عمومي ترقي امکان نه لري او دغه راز انکشاف خلکو ته د علم او پوهي د ورکولو او علمي او تخنیکي اطلاعاتو د عاملولو له لاري ممکنیږي. په افغانستان کي ښوونه او روزنه معمولا مذهبي زده کړي وې. تر یوه ځایه تنظیم سوي وې مګر هغه هم په نیمګړي ډول. تعلیم او تربیه چي د حکومت د کاتبانو او مامورینو لپاره لازمه وه او ځوانانو ته یې زمینه برابره سوې وای د فارسي ژبي له څو کتابونو څخه عبارت وه، هغه هم نه هغه عصري فارسي چي نن سبا خبري په کیږي بلکه د قرنونو زړه ژبه، چي په عصري ادبیاتو کي هم کار نه ورڅخه اخیستل کیږي. بلکه زاړه او کلاسیک کتابونه په داسي توګه تدریس کېدل چي د اوسني علمي او عملي افکارو سره یې اړخ نه لګاوه. د کتابت او دفتري کارونو لپاره زیاتره خطاطي ورښودله کېدله.
د وسلو د جوړولو یو ورکشاپ تاسیس سو چي کارګرو ته زیاتره عملي کارونه پکښي ښودل کېدل او د ماشین الاتو په باره کي علمي اصول نه ورښودل کېدل او هغه اصول نه ورته ویل کېده چي د وسلو د جوړولو او د پوځ د نورو اړتیاوو اساس بلل کیږي. د څرمني او ښیښو جوړولو کارخاني تاسیس سوې مګر یوازي د حکومت د اړتیاوو د لیري کولو لپاره( شاهي کورنی)
د بېلو بېلو علومو او هنرونو د کتابونو د ترجمه کولو لپاره کار پیل سو مګر نه کتابونه بشپړ وه او نه یې ترجمې پر لار وې. هر څه چي وه چاپ سول او کار ورڅخه اخیستل کېدی. دغه مترقي اقداماتو د خلکو پر اجتماعي او اقتصادي ژوند باندي کومه مثبته اغېزه ونه کړه، ځکه چي له دې اقداماتو سره سستماتیکه تعلیم او تربیه ملګري نه وه. د دې کارونو او پروګرامونو لپاره د خلکو ترمنځ تماسونه او د افکارو تبادله او دغه راز له ګاونډي هیواد هند څخه د ماهرانو را بلل لازم وه .
امیر عبدالرحمن خان یوه منظمه پاچهي او ډکه خزانه پرېښودله. د ده د مرګ په وخت کي د افغانستان په خزانه کي اویا میلیونه نغدي کابلی روپي وې او د دېرشو میلیونو روپیو په اندازه طلا، هندي بانک نوټونه، قېمتي ډبري او جواهرات موجود وه.
د هغه د استبدادي رژیم اغېزه د هیواد هري برخي ته رسېدلې وه. ده له خپل وفات څخه لږ مخکي ویلي وه چي د خانی د سستم ملا یې داسي ورماته کړه چي د ده له وفات څخه دېرش کاله وروسته به په هیواد کي ناکراري منځته رانه سي. تر هغه وخته پوري به د ده اولادونه په ارامه پاچهي کوي او وروسته به د خپلو کارونو او اقداماتو ثمره اخلي. مګر دی د خپل هیڅ زوی څخه د خپل جانشین په حیث راضي نه وو. ده هر وخت حبیب الله په دې غندی چي ټوله توجه یې د فېشن خواته ده او که چیري افغانانو مړ کړ نو دا به عجیبه نه وي.
امیر عبدالرحمن خان میانه قده سړی وو او چاغېدلو ته روان وو او په وجود ډېر تکړه وو. ږیره یې بشپړه پرېښودله. داسي پاچا وو چي ډېر سخت کار یې کاوه. په دولتي چارو کي یې له هیچا سره سلا نه کوله او ټول

منشیان او کارکونکي یې پخپله اداره کول. تر څو چې د ورځې کار به یې ختم نه کړ استراحت یې نه کاوه. هره قضیه چې به ورته راوړه سوه په تول تفصیل به یې کتله. یو ډول خاصه ښتني خوش طبعي یې درلوده او له خپلو ټولو نوکرانو سره یې، چې هم ور څخه وېرېدل او هم ورباندي ګران وو، ډېر ښه سلوک درلودی. ده به د یوه سړي وفاداري په مختلفو لارو ازمېیله او کله چې به یې د چا په وفاداري باور راغی چې د هغه په باره کې به هرڅه شکایتونه ورته وسول ده به غوږ نه پر نیوی. ډېر هوښیار سیاستمدار وو، یو زړه ور او تجربه کار عسکر وو او ډېر دور اندېش واکمن وو. د اروپا سیاستمدارانو هغه داسي سړی باله چې د اسیا کیلي ورسره ده. دی د نقرِس له ناروغی څخه، چې کلونه یې دردونه ورڅخه وګالل، مړ سو. مګر سره له هغه چې ډاکټرانو یې پرله پسې مشورې ورکولې دی په خوړو کي بې پروا وو. غوړي غذاوي او مېوې به یې ډېري خوړلی. د ده د یوه وخت خوراک د څلورو تنو لپاره کافي وو. ځکه نو هر وخت او ډېر ژر ژر به د نقرِس حملې ورباندي راتللې او له مرګ څخه څو کاله مخکي نه درېدلای سوای او نه یې قدم وهلای سوای. د ژوند په وروستیو پنځو یا پنځه نیمو کالو کي ما پر پښو ولاړ نه دی لیدلی.

پای